څوک چې ماته د هغه څه ضمانت راکړي چې د دواړو ژامو په منځ کې ده (ژبه) او د هغه څه چې د دواړو پښو تر منځه دي (عورت) نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم

له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "څوک چې ماته د هغه څه ضمانت راکړي چې د دواړو ژامو په منځ کې ده (ژبه) او د هغه څه چې د دواړو پښو تر منځه دي (عورت) نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم".

[صحيح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو شیانو په اړه خبر ورکوي، که چېرته پرې مسلمان ټینګ پاتې شي نو جنت ته به داخل شي. لومړی: له هغو خبرو څخه د ژبې ساتل چې الله تعالی پرې غصه کیږي، دوهم: له فحاشۍ څخه د شرمګاه ساتنه. ځکه چې په دې دوو غړو سره زیاته ګناه تر سره کیږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3475